# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ژاک دوترون (فرانسوی ترانه)

ژباړه: فرهاد ویاړ


۰۶ می ۲۰۱۲

## اپورتونیست

زه د کمونیزم پلوي یم

زه د سوسیالیزم پلوي یم

او همدا ډول د پانګوالی

ځکه چې اپورتونیست یم.

شته داسي کسان چې په اپوزيشن کي دي

ځيني غوښتني لري، معترض دي

زه يوازې يو کار کوم

کرتي مي چپه راسته کوم

ټل يې د خوښي خوا اغوندم!

له بدو استفاده چيانو نه ويريږم

له عوامفريبانو هم نه ويريږم

په رايي ورکونکو مي باور کوم

او هغوي د خپلو جيبونو ډکولو لپاره کاروم

شته داسي کسان چې په اپوزيشن کي دي

ځيني غوښتني لري، معترض دي

زه يوازې يو کار کوم

کرتي مي چپه راسته کوم

ټل يې د خوښي خوا اغوندم!

زه د ټولو ګوندونو غړی يم

د تولو هیوادونو تبعه یم

زه له مومنونو څخه یم

زه د ملحدینو سرکرده یم

شته داسي کسان چې په اپوزیشن کې دي

ځیني غوښتني لري، معترض دي

زه یوازې یو کار کوم

کرتي مي چپه راسته کوم

تل یي د خوښي خوا اغوندم!

زه چیغه وهم: ژوندی دې وي انقلاب

چیغه وهم: ژوندی دې وي قانون

چیغه وهم: ژوندی دې وي لاریون

چیغه وهم: ژوندی دې وي له دښمن سره مرسته

زه هیڅکله نه مخالفت کوم

نه غوښتنه او نه هم اعتراض.

ما ته یوازې یو کار یاد دی

کرتي مي چپه راسته کوم

کرتي مي چپه راسته کوم

او تل یي د خوښي خوا اغوندم!

دومره مي کرتي چپه راسته کړی

چي له هري خوا شلیدلي ده

په انقلاب کي

پرتوګ مي چپه راسته کوم!